# ښه حکومتوالي

## ښه حکومتوالي – د ډموکراټيک دولتوالي کلي

افغانستان په ډېروسيمو کې  د ناالغيزمنه او غيرشفافه حکومتي جوړښتونو څخه رنځ وړي. په هماغه اندازه چې د دولتي لوبغاړو ظرفيتونه په ملي کچه کمزوري او اغلباً په اداری فساد، خپل سريو او شخصي ګټو ککړ دي، په هماغه اندازه دا ظرفيتونه د ولاياتو او ولسواليو په کچه په ډيرو سيمو کې په سختۍ سره ليدل کيږي. د دولتي نهادونو کارکوونکي اغلباً نابسيا روزنه لري. سربيره پردې، د افغانستان دولت اوس هم تر زياته حده پورې په بهرنيو مالي مرستو پورې تړاو لري. د دولتي نهادونو زيات شمير اجراآت د هغو سلاکارانو په ملاتړ ترسره کيږي چې د بهر څخه تمويليږي. له دې امله اکثراً د سمونوالي فعاليتونه او ټولنيز خدمتونه د نړيوالي ټولنې د کار په توګه او نه د دولتي خدمتونو په توګه ګڼل کيږي. غيردولتي زورواکي، غيررسمي لړۍ او همداراز اداري فساد د دولتي نهادونو موثريت او اغيزمنتيا د پخوا په شان محدودوي.

حکومت همدارنګه د زيات سياسي، اقتصادي او فرهنګي مشارکت د پاره د قومي، مذهبي او قبيلوي ډلو د غوښتونو سره مخامخ شوی دئ. همداراز د افغان حکومت د عمل په توان باندې باور نه کيږي. دا کار د موازي جوړښتونو خطر زياتوي.

له همدې کبله د المان فدرال حکومت د افغانستان څخه د اداري سازمانونو او دولتي جوړښتونو د پراخولو په لاره کې ملاتړ کوي. موخه داده چې د اداري فساد سره په اوږدمهال کې مبارزه وشي او اداری کارکوونکي په دې ډګر کې نوې روزنه ومومی تر څو ښاريانو ته ښه خدمتونه عرضه کړي او په پايله کې د دولتي نهادونو په نسبت د خلکو باور ټينګ شي.

د ښې حکومتوالۍ په اړه زمونږ د فعاليتونو په باب نور معلومات کولای شی د پروژو په تفصيلاتو او د "کيسو" تر سرليک لاندې ولولوئ.

## زمونږ کار پدی برخه کې

**د ټولو ښاريانو دپاره حقوقی مصونيت**

د ۱۳۸۱ کال را پدې خوا د المان فدرال حکومت د هالند او فنلند سره يوځای د افغانستان ملاتړ کوي چې يو اغيزمن دولتی عدلي سيستم منځته راوړي. که څه هم په دې لاره کې ښه پرمختګونه شويدی، خو بيا هم يو لړ سمونتياوو ته اړه شته تر څو د

## د پروژې خبرونه

- عدالت ته د ښځینه و لاسرسي ته وده ورکول: په کابل کې د جنډر د مسؤلينو ملي کانفرانس
  http://ez-afghanistan.d)(e/ps/news/3641
  22.09.1397 | خبرپاڼه
- په ټول افغانستان د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی له منځه وړلو ۱۶ ورځنی کمپاين پای ته ورسيد
  http://ez-afghanistan.d)(e/ps/news/3634
  20.09.1397 | خبرپاڼه
- په سمنګان ولایت کې د سړک بیا رغونه چې ۲۲۰۰۰ ښاریانو ته يې ګټه رسيږي
  http://ez-afghanistan.d)(e/ps/news/3614
  14.09.1397 | خبرپاڼه

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Legal Certainty for all Citizens (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(ROL-d-Pashto.pdf
- Fact sheet: Reforms for an Effective and Trustworthy State (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(Opaf-d-7_Pashto.pdf
- Datenblatt: Staatliche Organe als Stützpfeiler der

ښاريانو دپاره د قانون حاکميت هم په ښاري سيمو کې او هم په کليو کې تضمين شي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1778)

**د بوه اغيزمن او باوري دولت دپاره اصلاحات**

د دولتي ادارو د اغيزمن کولو او د اداري فساد د مخنيوي په موخه، د المان فدرال حکومت په افغانستان کې د اصلاحاتو د لړيو څخه ملاتړ کوي او په دې لاره کې مسلکي کارپوهان د افغانستان نهادونو ته ورکوي. له دې ملاتړ څخه نه يوازې افغانی مسلکي کارکوونکي بلکه د هيواد ښاريان هم ګټه پورته کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1776)

**دولتی ارګانونه د ټولنې د استنادي ستنو په توګه**

د دې لپاره چې په دولتي ادارو باندې د افغانستان د خلکو باورتيا غښتلې شي، د المان فدرال حکومت د دولتي جوړښتونو د پراختيا او مسلکي کارکوونکو د روزنې څخه په ځانګړې توګه د هيواد په کليوالي سيمو کې ملاتړ کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1771)

**د پراختيا شفافه طرحه کول او پلی کول**

په افغانستان کې ولايتي اداري دنده لري چې د خلکو دپاره بيخبنا او عامه خدمتونو ته لاسرسی تامين کړي. د المان فدرال حکومت د دغو ادارو څخه ملاتړ کوي چې د افغانستان په شمال کې بيخبنايي ګام اخيستنه پلی کړي، د کارونو لړی د پلان سره سم طرحه کړي او هغه په يوازې او ښه توګه ترسره کړي. په دې ډول دا حکومت مرسته کوي چې د افغانستان د خلکو ټولنيز_اقتصادي پراختيا وده وکړي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1768)

**د بيارغونې د ايمني وجهي صندوق له لاری پرمختګ**

د المان فدرال جمهوري د افغانستان د بيارغونې دپاره د ايمني وجهي صندوق يو تر ټولو لويو مرستندويو هيوادونو څخه ګڼل کيږي. د دې صندوق مالي حجم چې د نړيوال بانک له خوا اداره کيږي په ۲۰۱۸ کال کې د آلمان ونډه ۶۵ ميليونو يورو ته رسيده او اوس مهال يو لړ پراختيايي ګام اخيستنه له دې لارې تمويليږي. مالي منجمنت د دولتي بودجې له خوا صورت مومي او د افغان حکومت سره مرسته کوي چې مالي وجهي په شفافه توګه اداره کړي، خپل عوايد منځته راوړي او مالي وجهي د هغو ملي لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره وکاروي چې تر ټولو زيات پراختيايي ارزښ ولري.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1763)

**د اقتصادي ودې په موخه د کانونو دوامداره ايستنه**

په افغانستان کې د کان ايستنې سکتور يو ډير ستر اقتصادي پوتنسيال دی چې کولای شي د هيواد پرمختګ ډير زيات کړي. د دغه سکتور د بشپړ کارونې په موخه د المان فدرال حکومت د افغانستان د اړونده مراجعو څخه ملاتړ کوي چې په اوږدمهال کې کان ايستنه د نوښتونو د هڅولو او د شفافيت په رواجولو سره ترسره کړي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1766)

Gesellschaft (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(RCD-GER_0.pdf

- Fact sheet: Public Authorities as Pillars of Society (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(RCD-d-7_Pashto_0.pdf
- Fact sheet: Transparently Planning and Implementing Development MeasuresIn Afghanistan (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(RIDF-d-7_Pashto.pdf
- Fact sheet:Progress Achieved through the Afghanistan Reconstruction Trust Fund (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(ARTF-d-7_Pashto_0.pdf
- Fact sheet: Sustainable Mining for Economic Growth (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(MinGov-d-7_Pashto.pdf
- Fact Sheet: Youth for Peace (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(ZFD-d-Pashto.pdf

**د سولې دپاره ځوانان**

د دې لپاره چې د افغانستان د ټولنې سوله ایزه وده تامین شي، داسې ټولنه چې د خلکو د پاره راتلونکي لرلیدونه پرانیزي، د المان فدرال حکومت په افغانستان کې د سولې د ملکي خدمتونو څخه ملاتړ کوي تر څو په هیواد کې اوسنی تاوتریخوالی له منځه ولاړشي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1761)